استقامت در راه خدا ج

خداوند تعالی مي فرمايد:« هرآئينه آنان که گفتند پروردگار ماخدا است وبازثابت ماندند،برايشان فرودمي آيد فرشتگان ، که مترسيدواندوه مخوريد وبه بهشتي که وعده داده مي شديد خوشحال شويد. مادوستان شما بوديم در زندگاني دنيا وآخرت نيز..

(فصلت : ۳۰-۳۱)

شريعت

فوق العاده گڼه — اونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك نشراتي ارگان

احمد شاه ((وحدت)) Ahmad Shah (Wahdat) A. E. P. O.

پايداري برصراط المستقيم، يگانه راه نجات است

از ابوعمر(رضي الله عنه) روايت شده که گفت : گفتيم يارسول الله براي من دراسلام سختي بگو که بعداز تو از کسي نپرسم . فرمود: بگو:« آمنت بالله » بخدا ايمان آورديم وسپس استقامت کن وپايدار باش.

(اين حديث امام مسلم روايت کرده : رياض الصالحين)

لومړی کال | نه دېرشمه گڼه | شنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال دميزان دمياشتي (۷) | د۱۹۹۶ميلادي کال سپتمبر (۲۸) | د۱٤۱۷ هـ ق کال جمادي الأول (١٤)

فتح مبين كابل وتنفيذ شريعت الهی «جل جلاله» درقلب كشور افغانيان مجاهد مبارك باد

پايتخت كشور ، كابل عزيز از لوث جنايتكاران تصفيه گرديد

هم شهريان كابل قدوم سربازان تحريك اسلامي طالبانرا به نداهاي تكبير و افشاندن كلها گرامي داشتند

امنيت در شهر كابل تامين شده كميسيونكه به اساس فرمان خصوصي رهبر عالي قدر انقلاب اسلامي جناب امير المؤمنين تعين گرديده بود اداره امور رادر كابل بدست گرفت

. خبر نگار ما از شهركابل خبر ميدهد كه : سربازان رشيد اسلام بعداز دو روز برخوردهاي شديد در حومه شرقي كابل شب جمعه ۱۳۷۵/٦/٦ ساعت يك بجه شب فاتحانه داخل شهر گرديد وتاصبح همان شب كنترول خود را بر همه مواضع اهم نظامي وملكي ودر طول روز برهمه كابل تأمين نمودند. خبر نگار مامي افزايد كه در داخل شدن به ص (٤)

د واك دسمبالښت لپاره يو شپږ كسيز كميسيون وټاكل شو

دواك دسمبالښت لپاره داميرالمؤمنين ملا محمد عمر «مجاهد» دځانگړي فرمان له مخي دملامحمد رباني په مشرۍ يو شپږكسيز كميسيون وټاكل شو. زموږ خبريال له كندهار څخه خبر راكوي چي ددي كميسيون په غړيو كي دغه كسان(٤) مخ

به فارغين كورس نظامي تصديق نامه ها توزيع گرديد

خبر نگارما از ولايت هرات خبر ميدهد كه بتاريخ ٤ ميزان درمحفل پرشكوهي تصديق نامه هاي فارغان كورس نظامي توزيع گرديد. محفل به تلاوت چند ايه از قرآن ص (٤)

دموقت كميسيون رئيس ملا محمد رباني له كورنيو اوبهرنيو خبرنگارانو سره په مركه كي :

په راتلونكي حكومت كي به ټولو افغانانو ته برخه وركول كيږي.

دجنگ له ويرې تښتيدلي كابل ښاريان دې بيرته كورونوته راستانه شي موږ يې دسر اومال دحفاظت ضمانت كوو

په كابل كي دحكومت دسمبالښت دموقتي كميسيون رئيس محترم ملا محمد رباني د بهرنيوزوكورنيو ژورنالستانو په گڼون يو مطبوعاتي كنفرانس ته خبري وكړي. او د ژورنالستانو پوښتنوته يې ځوابونه وويل دموقتي كميسيون رئيس په لنډه موده كي دحكومت دبيرنيو اهدافو دتوضيح په لړ كي دټولو افغانانو دسرمال دتحفظ واو (٤مخ)

ملحد ډاكټر نجيب دخپلو ناروا كړو په سزا ورسيد

دافغانستان دمؤمن ملت دسلگونو زرو شهيدانو قاتل ډاكټر نجيب دخپلو ناروا كړو په سزا ورسيد. زموږ ځانگړي خبريال له كابل څخه خبر راكوي چي دروان هجري لمريز كال دتلي دمياشتي په ٦ مه نيټه دغي شرعي پريكړي له مخي چي پخوا ډاكټر نجيب په محكمه شوي وه او هغه يې په مرگ محكوم كړي و دطالبانو داسلامي غورځنګ له خوا اعدام او دخپلو ناروا كړو په سزا ورسيد.

طالبان با اعدام نجيب نشان دادند كه به ارمان بازماندگان شهداء انقلاب اسلامي مخلص ووفاء دار ميباشند

.درطي تماسهاي تلفوني با دفتر هفته نامه شريعت بازماندگان شهداء جهاد وانقلاب اسلامي فتح مبين كابل را به پيشگاه اميرالمؤمنين ، شوراي عالي ص (٤)

سرمقاله

زموږ تگ لاره اسلامي لاره ده

زموږ تگ لاره اسلامي تگ لاره ده ، موږ داسلام دمقدسو اصولو په چوكاټ كي خپله ديون لاره ټاكلي ده، موږ به قدم په قدم دغه اسلامي تگ لاره چي دبشريت نيكمرغي اونيكبختي پكي پرته ده تعقيبوو، زموږ داسلامي تحريك هر غړي مكلف دي چي ددغي تگ لاري پيروي وكړي ، زموږ لاره سپيڅلي ده اوهدف مقدس ، موږ په هغه لار روان يو چي لوي خداي «جل جلاله» خپلو بندگانو ته ټاكلي اودهغه پاك ذات «جل جلاله» دنازولي پيغمبر حضرت محمد «صلي الله عليه وسلم» په واسطه راوړل شوي ده.

زموږ اسلامي تحريك د راپورته كيدو په هماغو لومړيو شيبو كي له خپل مسلمان اومجاهد ملت سره وعده كړي ده چي موږ به په دغه اسلامي هيواد كي اسلامي نظام ټينگوو، شريعت به نافذ وو، امن به راولو ، پاك سالاري به پاي ته رسوو، مظلومانو ته به له ظالمانو څخه نجات وركوو، له لوټمارانو سره به حساب كوو اوپه نهايت كي به له هره حيثه په هيواد كي اسلامي قوانين پلي كوو، موږ دانه دي ويلي اوهيڅكله به يي ونه وايو چي موږ چوكي اومنصب غواړو، پيسي اوښكلي غواړو په عيش اوعشرت دژوند تيرولو امكانات غواړو اوبالاخره هغه څه غواړو چي له اسلامي اصولو سره زموږ فاصله زياتوي بلكي موږ په هماغو لومړيو شيبو كي دا ويلي وو ، اوس يي هم وايو او بيا به مو هم همداشعار وي چي موږ ددنيوي جاه اوجلال لپاره نه يو راپورته شوي ځكه خو زموږ مسلمان

پاتي په (٢) مخ

دكابل دفتحي په تعقيب د اميرالمؤمنين ځانگړی اعلاميه

دگران افغانستان په پايتخت كابل كي دظلم اوفساد دعاملينو ترله منځه وړلو وروسته اميرالمؤمنين ملامحمد عمر «مجاهد» دغه فرمان صادر كړ:

١- تردي وروسته به په افغانستان كي سوچه ، خالص اسلامي نظام حاكم وي

٢- ټول هغه افغاني سفيران چي په بهرنيو هيوادونو كي مقرر دي ، ددوي كارونه معطل دي اودكارونو داجرا صلاحيت نه لري ، ټول بهرني هيوادونه دي دافغانستان دنغدي اوجنسي اموالو ساتنه وكړي داځكه چي كوم سفير پخپل سر دپيسو چك اجرانه كړي .

٣- دكابل له ټولو ښاريانو څخه غوښتل كيږي چي له ښار نه دي كډې نه باسي اوځوك چي له ښاره وتلي دي هغوي دي [illegible] خپلو كورونو ته راستانه شي ځكه طالبانو ددوي دمال ،ننگ اوناموس امنيت نيولي دي.

٤- دماينونو دپاكولو ټولي [illegible] سي دي ډيرژر كابل ته تلونكي ټولي لاري له ماينونو څخه پاكي كړي ترڅو كابل ته دتگ اوراتگ [illegible] ي مشكلات له منځه ولاړ شي.

٥- ټول ملي سوداگر دي ژر تر [illegible] دكابل دښاريانو دورځينو مشكلاتو دله منځه وړلو لپاره دخوړو اودسون دموادو په رارسولو لاس پوري كړي ترڅوله دي پلوه كابل ښاريان له ستونزو سره مخامخ نه شي.

به همه كاركنان ملكي ونظامي اداره ائتلافي از ميان رفته كابل از طرف اميرالمومنين عفو عمومي اعلان گرديد

به همه كاركنان ملكی ونظامی كه تاحال به شكل از اشكال درقيد خدمت اداره ائتلافی كابل قرار داشتند و ياعليه تحريك اسلامی طالبان به جبهات جنگ فرستاده شده بودند، برای همه آنها عفو عمومی رااعلان داشته وازآنها ميخواهد كه به حيث يك مسلمان به وجايب ومكلفيتهای شرعی خودها متوجه شده علايق وارتباطات خود را ازاداره غير شرعی وملی ازميان رفته ربانی بريده دركنار طالبان به صفوف دولت جديد اسلامی بپيوندند وهمچون ساير افراد ملت سر،مال وناموس آنها مصئون ومحفوظ بوده وهيچ نوع تهديد وفشار متوجه آنها نخواهد شد واز همه امتيازات مادی ومعنوی كه سايرين برخوردار ميباشند اوشان نيز بهرور خواهند شد. وآنانيكه از عفو، عمومی كه اعلان گرديده استفاده نبرده از كنار مفسدين دور نشوند مسئوليت خطير شرعی وتاريخی آن بعهده خود آنها بوده هيچگاه ازآن مسـ [illegible] ـت بری الذمه پنداشته نخواهند شد.

دطالبانو داسلامي تحريك يومسئول مقام وويل:

جهادي مشران ، جهادي قوماندانان اومجاهدين دي په اوسنيو حالاتو كي خپل مثبت رول ولوبوي

زموږ خبريال له كندهار څخه خبر راكوي چي دطالبانو داسلامي تحريك مسئولينو په ټولو جهادي مشرانو ، جهادي قوماندانانو اومجاهدينو غږ كړي دي چي دتاريخ په دي حساسو شيبو كي دي په افغانستان كي دهغه څه لپاره كوښښ وكړي چي زموږ دجهاد اهداف اوثمرات ترلاسه شي. خبريال وايي له هغوي څخه غوښتل شوي دي چي دخپل مسلمان ملت دنيكمرغۍ اواسلام دسرلوړۍ لپاره دي خپل مثبت رول ولوبوي اوپه پوره اخلاص اوپاك نيت دي راميدان ته شي.

دكابل دفتحي په مناسبت دحركت ۱-۱-۱ دامير محترم مولوي محمد نبي (محمدی) او اجرائيه شوري دمباركي پيغام

له كندهار څخه زموږ خبريال خبر راكوي چي دافغانستان د وروستيو فتوحاتو او خاصتاً دكابل دفتح په مناسبت دحركت انقلاب اسلامي افغانستان دامير او اجرائيه شوري دمباركي پيغام رارسيدلي. خبر وراندي ليكي په پيغام كي ليكل (٤) مخ

جناب حضرت صاحب صبغت الله مجددي دراعلاميه كه به دفتر شريعت رسيده گفته اند:

ماامیدوار هستيم كه باموفقيت تحريك اسلامي طالبان آينده درخشاني كشور ومردم مادر قبال داشته باشند

درين مقطع حساس وتاريخی كه ملت مسلمان وقهرمان افغانستان از غصب اداره سياسی كشور توسط داروودسته ربانی به مشكلات هاي گوناگوني دچار شده بودند الحمد لله كه اين اداره ظالم كه ملتی رابه گروگان گرفته وهزاران تن از مردم مسلمان مارا كشته‌ص (٤)

دمباركي مراتب

دشريعت داونيزې مسئول مدير، دتحرير هيئت او كاركوونكي په كابل كي د ظلم او فساد د عاملينو د له منځه وړلو او په هيواد كي داسلامي نظام دټينگښت له امله داسلامي تحريك لارښود اميرالومنين ملا محمد عمر «مجاهد» دعالي شورۍ غړيو، داسلامي تحريك نظامي اوسياسي فعالينو اوټول مسلمان اومجاهد ملت ته دخپلو مباركيو مراتب وړاندي كوي، هيله لرو دهيواد دسياسي استقرار دټينگښت په لاركي مو زيات برياليتوبونه په برخه وي.

ومن الله التوفيق

دافغانستان مسلمانو خلكو! دهيواد په زړه (كابل) كي د شريعت نفاذ، دسولي اوامنيت بری اودظلم اوفساد ماتي مومبارك شه، دطالبانو اسلامي تحريك ستاسو هغه غوښ اوبې دريغه ملاتړ نه هيروي چي ددغه تاريخي برياليتوب په اړه مو ورسره كړي دي.

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترکتنی لاندي
مسئول مدیر : مولوی احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۲۷۸
آدرس : په پیښور کي دطالبانو داسلامي تحریك نمائندګي
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۵۰۰) افغانی
: په پاکستان کی (۳) کلداری

سرمقاله ...

ملت زموږ ترڅنګ ودرید او له موږ سره یې دټولو پروګرامونوپه تطبیق کي نه هیریدونکي مرستي وکړي.

موږ دخپل مسلمان اومجاهد ملت دغه بې مثاله مرستي نه هیروو، که څه هم په دي پوهیږو چي په دي مرستو کي زموږ خلکو خپله بقا هم لټوله، خوپه دي هم پوهیږو چي که دوي غوښتي واي دغه شان مرستي یې له مقابل لوري سره هم کولاي شوي،خو داچي دوي ته معلومه شوه چي موږ یوازي اویوازي دهمدوي دخوشالي اوسوکالۍ لپاره راپورته شوي یو څکه یې نو خپلي همکاريهم راسره ملي کړي او قدم په قدم یې زموږ دپرمختګونو اوبریالیتوبونو هرکلي وکړ، زموږ په غاړوکي یې دګلانو امیلونه راواچول اودغه اسلامي تحریك یې خپل تحریك وباله .

که څه هم انسان ډیر کمزوري مخلوق دي، کله ناکله دحیرانوونکو بریالیتوبونو په نتیجه کي پرځان غاوره کیږي خو موږ پخپل هر پرمختګ سره نه یوازي په خپلو زړونو کي غرور ته ځاي نه ورکوو بلکي دخداي «جل جلاله» په لوي دربار کي دسجدي سرونه ښکته کوو، خداي ته زاري کوو او دخپلو ګناهونو دبخښني لپاره لاسونه ورته نیسو .

څکه موږ په دي ایمان لرو چي عزت اوذلت دخداي «جل جلاله» له لوري دي، نو که موږ دخداي «جل جلاله» په مستقیمه لار روان یو اودهغه پاك ذات دأوامرو پابند یو، نو هرو مرو دخداي«جل جلاله» مرسته راسره ده، خوکه چیري له دغي مستقیمي لاري څخه انحراف وکړو(خداي «جل جلاله» دي نه کوي) نو بیا باید دهغه څه انتظار ولرو لکه دانور چي پري اخته دي.

موږ همیشه داویلي دي اویوځل بیا خپله دغه ژمنه تکرار وو چي موږ به دخپل مسلمان اومجاهد ملت له مشوري سره سم پرمخ ځو، څه چي دملت فیصله وه هغه به زموږ فیصله وي، موږ په زور باندي پرملت دخپل نظر دتحمیل طرفدار نه یو اونه به وروسته ترږي دافکر راته پیدا شي، موږ چي هرعمل کوو ددین دارشاداتو په رڼا کي یې کوو، موږ چي هر پروګرام پرمخ بیایو دخپلو دیني عالمانو اوعام ملت نظر له پامه نه غورځوو چي زموږ ددي ادعا دثبوت لپاره په هغو سیمو کي چي زموږ داسلامي تحریك ترکنترول لاندي دي زموږ کړه وړه دیوي بیلګي په توګه ددرنو هیوادوالو مخي ته پراته دي.

داچي زموږ اسلامي تحریك دظلم اوفساد دله منځه وړلو لپاره راپورته شوي دي، نو زموږ ددي تحریك هرغړي مکلف دي چي همدغه اصل له نظره ونه غورزوي اوله خلکو سره داسي چال چلند خپل کړي چي دهغوي پرزخمونو پټۍ ولګیږي اوپخپل کور اوکلي کي د ارام ساه واخلي زموږ داسلامي تحریك هرغړي وظیفه لري چي دخلکو په زړونو کي ځاي پیدا کړي اوپه دي توګه دهغوي په منځ کي داسي واوسیږي لکه ددوي دکورنۍ یوغړي چي وي.

موږ بیاهم دخپل مهربان خداي «جل جلاله» په دربارکي دعجز اوزاري لاسونه پورته کوو، پخپلو اسلامي پروګرامونو اوپلانونو کي ورڅخه مرسته غواړو او ددي توفیق غوښتنه کوو چي خپلو هیوادوالو ته دپوره خدمت مصدر وګرزو اوپه دي توګه دهغه لوي ذات «جل جلاله» رضا اودهغه دمخلوق دخدمت ویاړ ترلاسه کړو ، لوي او مهربان خداي «جل جلاله» دي زموږ دمسلمان اومجاهد ملت مرستندوي وي.

آمین ثم آمین

د شریعت تبصره

دظلم ځاله څنګه ونړیدله؟

څکه ونړیدله چي :

دظلم اوتیري طبیعت اوخهه داسي ازل شوي ده چي ډیر پایښت نه لري اوداله دي امله چي دالهي حکمت په غوښتنه دانسانانو بقا ترهغه وخته پوري تاکلي شوي ده ترڅو چي دغه زمکه اواسمان اودالوي نظام باقي وي څرنګه چي ظلم اوتیري ددغي تاکلي بقا لپاره زیان رسوي اوددغي لړۍ له اوږده پایښت سره سرنخوري نوځکه الله تعالي ظالم اودهغه ظلم ته دازموینښت له یوي دوري نه زیات پایښت نه ورکوي اوله منځه یې وړي،

بل داچي ظالم له ظلم سره سره لویي اوتکبر هم کوي نوڅنګه چي لویي اوکبریا ، دالله جل جلاله ځانګړي صفت دي خوارکي مخلوق چي ددغه الهي خصوصیت دعوا وکړي دالله تعالي غضب راپاروي - نعوذ بالله تعالي - او ژر یې فناکوي ، له دي وجي نه دفرعونیانو ، نمرودیانو شدادیانو اونورو سل ګونو قاموتو اوولو ټپلو کیسي دپند اوعبرت لپاره راپاتي شوي دي، همدارنګ ؤ داتلسمي اونولسمي پیړۍ یهودي، هتلري ، انګریزي ، تزاري ،کمونستي اونورظالم او تیري کوونکي ځواکونه چي یویه بل پسي له منځه ولاړل.

دګران اومسلمان افغانستان ولس له یڅلسو کالونه زیات دپلورل شویو اومزدورو کمونستانو له لاسه هغه څه وګالل چي نړۍ ولیدل اودوي هم څوك یوډبل په لاس اوڅوك داسلام دغیرتي مجاهدینو په لاس الله تعالي وځپل اودپاي توکي (ډاکټر نجیب) له څلورنیم کاله زنکدن(جان کندن) نه وروسته ن دطالبانو داسلامي تحریك دسپیڅلو مجاهدینو په لاس په دار وځړول شو ا الحمدلله.

دکمونستي نظام له زوال نه وروسته دربانی فاسدي، کرغیړني اومنفوري اداري له لاسه چي داسلام په نوم جوړه شوي وه زموږ مسلمانانو هغه څه ولیدل چي وبي لیدل اوبالاخره یې هغه خپل فطري انجام اومنطقي نتیجه دطالبانو داسلامي تحریك دسپیڅلو مجاهدینو په لاس پرون دجمعي مبارکي په شپه ولیدله چي هر ړوند اوکوڼ - ظالم اوکبرجن یې ویني اوپه دغه ترتیب سره الله تعالي مظلوم مسلمانان ددوي له ظلم نه وژغورل ، دظالمانو ځالي خشمي شوي اوپه خشمیدلو دي انشاء الله تعالي.

اوس نو دافغانستان مسلمان ولس که هر چیرته وي اوپه هره سطحه وي تر هرڅه لومړي دي الله تعالي ته دشکراني لمونځ ادا، کړي بیا دي مهتي راپهوهي اودخپل وران ویجار افغانستان دبیاودانولو لپاره دي ټول ځانونه چمتو کړي اوپه هره ساحه کي چي کار اوخدمت کولاي شي خپل وس او استعداد دي نه سپموي، په لیر بیا هغه څوك چي دیوه مسلك خاوندان وي هرومرو دي له هرچانه مخکي دخپلو غمځپلو مسلمانانو په خدمت کي ونډه واخلي.

داڅکه چي اوس دطالبانو داسلامي تحریك دپاکو مجاهدینو اوشهیدانو کرامو رحمة الله تعالي علیهم دوینو اوقربانیو په برکت ددي وخت رارسیده چي خپل وران ویجاړ وطن سمسور ، اسلامي شریعت تطبیق، دکونډو اویتیمانو اوښکي وچي، دشهیدانو کرامو«رح» اوټول اسلامي امت ارمانونه ترسره کړو، ومن الله التوفیق

دملګرو ملتونو موسسې ته یوه‌تنقیدي کتنه

په فلیپین کی دامریکا اومانیلا د حکومتونو ظلمونه

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

دمورو دآزادۍ دملي جبهي او فلیپین حکومت ترمینځ دکورني خپلواکي معاهده د سپتامبر په ( ) ، ۱۹۹٦م کال کي دمورو دآزادۍ د ملي جبهه او فلیپین دحکومت ترمینځ دکورني خپلواکي په اساس یو تړون لاسلیك شو چي وروسته دتش په نوم عامو انتخاباتو په ترڅ کي دمورو دآزادۍ دملي جبهي (مورو نیشنل لیبریشن فرنت MNLF) مشر نور مسواري بې سقابلي کامیاب اعلان شو اوپه دي توګه نور مسواري لکه په اسرائیلو کي دیاسرعرفات په شان دداخلي خپلواکۍ په اساس د «بنګشامورو » دسیمي د والي یا رئیس په توګه دمانیلا دحکومت له خوا ومنل شو . داچي دا معاهده به څومره عملي بڼه ولري؟ د مورو داسلامي ګوندو نو له مخالفت سره سره به دا وپایري اوکنه نه؟ اودا چي نور مسواري ته یې نوي څومره امتیازات ورکړي دي؟ په دي هکله نوي تازه معلومات نه دي ترلاسه شوي، البته دغه معاهده د۱۹۹٤م کال دهغي معاهدي په اساس مینځ ته راغلي ده چي دامریکایانو په توسط د (MNLF) او فلیپین دحکومت ترمینځ شوي وه ، او د فلیپین په جنوب کي مسلمانانو ته دکورني خپلواکي په ورکولو باندي توافق ته رسیدلي و، او دهغه توافق په اساس نورمسواري فلیپین ته له جلا وطنی څخه راستون شو، او د فلیپین مسلمانانو هغه رده کړه .

په فلیپین کی مسلمانان مختلف سیاسي ګوندونه لري لکه:

۱- د فلیپین دمسلمانانو اتحادیه چي مشري جنرال پنداتن دی.
۲- د مورو داسلامي آزادۍ جبهه چي مشر یې استاد سلامت هاشم دی.
۳- دمورو دملي آزادۍ جبهه (MNLF) چي مشر یې نور مسواری دی.
٤- انصار السلام (مارواینې)
۵- واسلامي دعوت شوری (دادمختلفو ګوندونو اتحاد دی)
٦- یی ایم ایل او ګوند چي مشر یې سلطان هارون الرشید لقمان دی.
۷- دنویو مسلمان شویو ټولنه ، دعبدالرحمن په مشری باندی .

په پورتنیو ګوندونو کی دمورو ملی آزادۍ جبهی (MNLF) د فلیپین له حکومت سره دروغي اوجوړي خبري پیل کړي او دا کار دامریکا او اندونیزیا په توسط پیل شو چي وروسته داسلامي کانفرانس منشي هم ددي پروسي تائید وکړ. خو ددي برعکس دمورو داسلامي آزادۍ جبهي اونورو ګوندونو دمعاهدي مخالفت وکړ، دهغوي موقف بشپړه آزادي او اسلامي حکومت دی . په داسي حال کی چي دمورو دملي آزادۍ جبهه د فلیپین له حکومت سره یوه سیکولر اوداخلي خپلواکه حکومت باندي راضي شوي ده.

یوولسمه برخه

داسلامي ګوندونو بله وینا داده چي د فلیپین حکومت تل له دوکي څخه کاراخلي اوپه معاهدو باندي باور نه لري. غواړي په دا ډول تیرونو باندي دمسلمانانو ترمنځ اختلافات راپورته کړي.

دیادوني وړ ده چي پنځلس کاله مخکي دمورو دملي آزادۍ دجبهي اوپه فلیپین کی دمارکوس دحکومت ترمینځ په تریپولي کی یوه معاهده شوي وه.

په هغه معاهده کي په جنوبي فلیپین کي مسلمانانو ته په دیارلس جزیرو کي دکورني خپلواکۍ وعده ورکړ شوي وه . خو د فلیپین حکومت په هغه باندي عمل ونه کړ. هغه وخت جنرال راموس د فلیپین د فوځونو قوماندان وو او اوس دی د فلیپین جمهور رئیس دی ، نوکه دهغه تړون پرخلاف نه سړي وګوري دا به ګرانه وي چي دغه تړون دي عملي جنبه ولري . البته یوڅکي په کي مهم دي چي په نوي تړون کي ددیارلسو جزیرو په ځاي اوس اپله اوو جزیری (MNLF) ته ورکړي شوي دي او هم یې داسلامي حکومت په ځاي سیکولر حکومت ورسره منلی دی . کیداي شي دغه ټکي دمانیلا حکومت دپاره ددلچسپي وړ وي.

دا چي دمورو دملي آزادۍ دجبهي (MNLF) مشر نورمسواری دغه تړون دکومو ضمانتونو او کوموګټو سره منلی دی ، هغه په دي اړوند خوشحاله ده چي لاندي ګټي دده بریالیتوبونه دی:

۱- په بین المللی ډګر کی دمورو دملي آزادۍ جبهي ته سیاسي بري ورپه برخه شو، او دفلیپین حکومت د « بنګشامورو » دقوم منلی شوی حیثیت ومنل.

۲- په هیواد کی دننه یې هم سیاسي بري تر لاسه کړ، په داسي حال کي چي په پخواکي دغه ګوند چاپه هیڅ کي نه شمارل اواوس یو متحرك او فعال ګوند بلل کیږي.

۳- که دفلیپین حکومت دغه تړون دیخواني تریپولي دتړون په شان په ټکنه ووهي ، نو اسلامي کنفرانس دعده ورکړي ده چي (MNLF) ته به په دغه کنفرانس کی دغړیتوب ورکولو په خبره غور کوي.

٤- داکټر حامدا لغابد د دسامبر په ۲ ، ۱۹۹٤ م کی اعلان وکړ چي ددغو خبرو اترو په اړوند اسلامي کنفرانس دمورو دملي آزادۍ دجبهي بشپړه ملاتړ کوي.

هغه وویل اسلامي کنفرانس ۲۳ کاله کیږي چي ددوی حمایت کوی او (MNLF) له اسلامي کنفرانس سره دجنوبي فلیپین دمسلمانانو له خوا دیوه نماینده ګوند په توګه پیژندل شوي حیثیت لري.

۵- دسولي په دغو مذاکراتو کي داندونیزیا رول هم داهمیت وړ دي دیوه اسلامي اوناپیلي هیواد په توګه به هغه بری نږدې چي دغه تړون له ناکامۍ سره مخامخ شي.

دا ټول هغه ټکي وو چي نورمسواری یې خوشحاله کړی دی اوپه فلیپین کی یې دیاسرعرفات رول په غاړه اخیستی دی، ددیارلسو جزیرو په ځاي یې په اوو باندي ځان قانع کړی ، او دبشپړي ازادۍ په ځاي یې کورني خپلواکي منلی دی له بدخیانت دادی چي داسلامي حکومت په ځاي یې یوه سیکولر حکومت جوړولو ته غاړه ایښي ده چي دفلیپین دمسلمانانو دڅورسره کلن جهاد سره خیانت دی. دهیواد نوراسلامي ګوندونه په دفلیپین دحکومت او نورمسواری مخالفت کوي اودی په د مانیلا دحکومت له خوا له دغوي داراسلو دپاره دپولیس رول لوبوي په دي توګه په یواځي دمانیلا حکومت له دغي معاهدي څخه ددوی دختګولونه ګټه پورته کوي.

ویل کیږي چي بالکل دهمدغو خبرواترو په دوران کي دفلیپین فوځ دلوزان په سیمه کي ددوو کلیو مسلمانانو ته حکم وکړ چي خپل کورونه او پلارنی ځمکي دي خوشی کړي خو نوي راتلونکي عیسایان هلته میشته کړي. دفوځ اصلي هدف په دغه سیمه کي دعیسایانو په میشته کولو برسیره دایورسوني هغه ستره پروژه لاسته راوړل وو چي داسیا دپرمختیایي بانك په مرسته دسلهاوو میلیونو دوالرو په خرڅه باندي بشپړه کیدونکي ده.

ملګري ملتونه چي دسولي اوامن دنده په غاړه لري اوپه نړۍ کي ور د ټولو او هیوادونو ته دلویو اورووړو ټولنو دظلم څخه باید نجات ورکړي اویاخوړیي لږ تر لږه دمظلومیت اواز په بشري ټولنه کي پورته کړي، او ددوی دبشري حقونو دساتني دپاره هلي ځلي وکړي، دفلیپین دمورو مسلمانان ددوي ددغه رحم او کرم څخه بي برخي دي دپاره [illegible] دي چي استعماري او شکي هیواد یې امریکا او یاخو دهغه ګروه ا ګیان دی اومظلوموری مسلمانان دی اوبس .

اسلام به جنبه وجدانی انسان نیز ارزش واهمیت میدهد

عبدالعزیز «مولانا زاده»

اسلام در تعلیمات وعباداتش انسانیت انسان را هدف قرار داده ومیخواهد که درانسان زندگی انسانی را استحکام بیشتری بخشد وادراك ووجدان واراده قوی ومحکم را در او رشد دهد وبالابرد . وجدان تنها آن عواطف وتمایلی رانمیگویندکه بین خوب وبد، بین حسن وقبیح باوصف جدائی انها تشخیص و تفکیکی نماید بلکه چیزیست که انسان را با یك حرکت درستی بسوی نیکی وشایستگی ببرد ومحرك وباعث اذاله نفرت ودشمنی وبدی وقباحت باشد. مقصد از شایستگی ، شایستگی عمل، شایستگی گفتار ، شایستگی صفت ، شایستگی انسانیت وشایستگی ارتباط علایق بادیگران وقشنگی طبیعت است که وجدان انسان باآن متمایل میشود .

اسلام عزیز به مسلمانان امر میفرماید که باخود ودیگران ازیك وجدان صحیح وسالم کار بگیرند راه خوبی ونیکوئی را در پیش گیرند واز ضرر وبدی بدیگران پرهیز واجتناب نمایند.

قرآن درطریق مجادله بادشمنان اسلام چنین توصیه میشاید: « بامخالفین اسلام از طریقی مجادله کن که کاملاً پسندیده وانسانی باشد. » همچنان آیات زیاد قرآنی انسان رامتوجه این امر میسازد که انسانیت خودش را بشناسد واز سویه انسانی خویش باخبر گردد وباز بداند که سویه انسانی از او وجدان سالم میخواهد وآن اینست که خودش خوشی وراحت خود را در خوشی وراحت دیگران بداند وبابنعمل دوام دهد. بنابر همین سبب قرانکریم عذر خواستن وجواب به درخواست غریب ومحتاجی راکه یکملك مادی ضرورت دارد وشب وروز را بگرسنگی وناداری سپری میکند. به نیکوئی وملایمت برتر وبهتر از قبول کمك ومعاونت مادی نی میداند که بازشتی وتندخوئی همراه باشد وتاحدی به مسلمان توصیه باحسان نموده که حتی در موقع قتل دشمن دین هم تحقیر واهانت باو را (مثله) را روا وجایز نمیداند وباانسان مرده نیز سلوك ناجایز را تقبیح کرده است .

بیائید خواسته ها وتوصیه های اسلامی ودینی را با اعمال خود ومسلمانی کنونی وفعلی خویش بصورت اختصار مقایسه کنیم وتفاوت را دریابیم که ازکجاست تابکجا؟!!!

۱) آیا ما مسلمانان امروزی اعم از دانا ونادان، [illegible] توصیه ها وارشادات اکید اسلامی رابگوش هوش شنیده وجامه عمل پوشانیده ایم ویا آنکه [illegible] نگریسته وازآن سرباز زده هر چه بود ونبود را ازآن خود دانسته وبرکیسه خود فرو برده ایم؟

۲) دین انسان ساز اسلام که درهمه امور زندگی صداقت و راستی وراستکاری ومعاونت وهمدردی وعشق ومحبت باهمنوع را برما فرض گردانیده وتوصیه های زیادی در مورد صادر فرموده تا چه حدي برخود عملی کرده ایم وآنرا سرمشق عمل قرار داده ایم؟

۳) در تشخیص وتفکیك حلال از حرام وتفویض مال امانت بصاحب آن که اسلام وقرآن اکیداً سفارش وهدایت فرموده آیا راه راستی را درپیش گرفته ایم یا آنکه بآن بنظر بی تفاوتی دیده ایم؟

٤) چه قدمهای مثبتی رادر راه رفع خصومتهای ذات البینی که مولد نفاق وشقاق بین برادران مسلمان است وجامعه اسلامی را بسوی نابودی وتباهی میبرد درطول عمر وزندگی زمانی خویش برداشته ایم؟

۵) مساعی وتلاشهای مامحبت مسلمان برای تأمین یك زندگی مرفه بیشتر مبنای مادی داشته ویامعنوی وآیا در راه رسیدن بمنزل مقصود از هدایات اسلامی پیروی کرده ایم ویاخیر؟

٦) از دسایس شیطانی وهواجس نفسانی تاچه اندازه بدور بوده ودر ارتکاب عملی ازآن حذر کرده ایم ، نفس اماره برماغالب ومسلط بوده ویانفس ارام ومطمینه ؟

۷) هنگام قدرت وتوانائی آیا درراه عدل وعدالت رفته ایم واز حق وحقیقت جانبداری وپشتیبانی کرده ایم ویا آنکه هوای نفس را بر تفکیر وتعقل انسانی ترجیح وبرتر شمرده ایم؟

۸) درقسمت تبعیضات نژادی ، قومی وفرقه ئی وگروهی که امروز بدبختانه دامنگیر همه ما مسلمانان است چه نظری وحرکتی برمبنای ایمان واسلام وموافق باحکام قرآن وحدیث بعمل آورده چه و کدام راهی را پیموده ایم؟

۹) اسلام وقرآن حکم میفرماید که در زندگی موافق بخواست وجدان سالم انسانی باتمام همنوعان وبرادران اسلامی سلوك اخلاقی اسلامی را رعایت نمائید وخیر وبهبود خود را در خیر وبهبود جامعه دانسته وجستجو کنید آیا این خواست وجدان وحکم اسلام را بر آورده ساخته ایم؟

۱۰) تمام ارشادات ، توصیه ها واحکام صادره اسلام ودین بااین موضوع خلاصه شده وبه انسان مسلمان تفهیم میکند تادست اذیت ظالم را از مظلوم کوتاه سازد ، به بینوا وبیچاره واز خود وبیگانه [illegible] (غیرقومی) کمك مادی ومعنوی کند وآنچه بخود روامی بیند به دیگران نیز روا دارد ، به اوامر الهی واسلامی پابند ومطیع وازنواهی احتشاب ورزد، آیا مابصفت مسلمان ازاین احکام وتوصیه های اسلامی وقرآنی پیروی کرده ایم ویاخیر؟

پرسشها وسوالاتی زیادی در مورد وارد است که البته جواب مثبت ومنفی آنرا بشما خوانندگان برادر ومسلمان خویش میگذاریم.

برمیگردیم برموضوع اصلی بحث خویش که اسلام به تربیه وجدان نیز ارزش واهمیت میدهد:

هرگاه اسلام را در پرتو تعلیمات عالی وانسان ساز آن مطالعه کنیم ، می بینیم ومیپذیریم که اسلام علاوه برهمه اینها از انسان تربیه وجدان را میطلبد وانسان را متوجه جمال انسانی میکند که البته مقصد آن اینست که انسان باید تنها متوجه زیبایی صوری انسانی خود نشود ، بلکه بیشتر واضافه تر به جمال وزیبایی نفس انسانی توجه کند. لذا اسلام که انسان را ازارتکاب امور ناجایز منع میکند وامور ناشایسته را بدوقبیح خوانده از شرابخوری وقمار بازی وامثال آن ممانعت بعمل آورده وخوردن گوشت مردار را باخوردن خون حرام گردانیده ، مطلبش اینست که انسان خودش با خود اتحاد ویکرنگی پیدا کند و راه خیر وصلاح را درپیش گیرد وصاحب چنان زندگی آرام ومطمئنی گردد که نه برآنچه کرده ومیکند پشیمان شود ونه از کردارش احساس خجالت نمایدونه باوچنان غم وتشویشی پیدا شود که چرا باخود بد کرد وچرا انسان دیگری رامتضرر وناآرام گردانید وبجای آن کاری ننمود که هم بخودش وهم بدیگران درآن خیری متصور باشد.

اسلام که درقسمت زندگی فامیلی ودرمعامله بادیگران هدایاتی به مسلمان داده مقصد آن اینست که انسان روابط انسانی راحفظ کند ودر پرتو شعور پاکرامت انسانی باموردم نشست وبرخاست نماید ودر موقع غیظ وقهر، خشم وقهر خود را بخورد واز تجاوز بگذرد.

الغرض اسلام از انسان مسلمان بخاطر استحکام ارتباط اوبا سایر انسان سلوکی را تقاضا مینمایدکه طرف پسند وخواست نفوس انسانی باشد.

اسلام دروقت ملاقات انسان باانسان درقلب انسان ایجاد خوشی و سرور مینماید واین مظهر خوشی واستراحت وآرامش وجدانی است که یك انسان با وجدان اولتر ازهمه آنرا در وجود خودش احساس میکند ودرساحه محبت وعاطفه به پیش میرود.

اسلام به مسلمان توصیه میفرماید که زیبائی طبیعی راببیند ونعمتهای خداوندی را درآن تشخیص کند وآن منافعی رادرك کند که در روی زمین درمخلوقات وجود دارد مقصد اینکه احساس داخلی انسان راباکارنامه های طبیعت آشنا سازد وقلباً وعمیقاً آنرا متوجه منابع طبیعت گرداند تابرخصوصیات منابع طبیعی واقف گردد وبرحیوانات ونباتات وجمادات وکوههای سربفلك کشیده وابحاروبحیره‌ها بیندیشد ودرهمه منافع خودش راجستجو نمایدوبعد درپرتو وجدان سلیم وفهم درست ازآنها استفاده برد ، اسلام بهر فرد مسلمان چه مرد باشد وچه زن، پدر باشد یامادر، پسر باشد یا دختر، خویش باشد یابیگانه وهمسایه ، هموطن باشد ویاغیر آن ، در حالیکه درایمان واسلام وهمکیش شریك باشد توصیه میفرماید تا وجدانی داشته باشد که خیر ومصلحت عمومی وزیبائی ونیکوئی را بهمدیگر بوجود بیاورسازند. اینگونه وجدان درانسان مدارك عالی وآداب ورویش بوجود میآورد که درهمه جوانب وسیله فن ومهارت بسترا ونیکو میگردد واز اثر همین وجدان فکر انسانی رنگ طبیعت انسانی میگیرد وانسان را درعمل وصناعت خویش بطرف بشریت وانسانیت متوجه میسازد.

از آنجائیکه ذات حق تعالی بلاشك وشبه ذات حق است ، پس اوذات دارای کمال وجمال وخیر ونیکی است لذا هر انسان مکلف است که اینهمه را درك کند ودر زندگی خود آنرا تطبیق نماید واز همین طریق انسان بزرگ صاحب جمال وکمال گشته وباخدای متعال تقرب پیدا میکند. بنابر آن نتیجه میگیریم که تمدن انسانی وجدان را بوجود میاورد واین تقدس اسلام وجدان را پرورش میدهد ووجدان عادتاً در انسان عبارت از احساس نمودن جمال، ذوق وعاطفه است وانسان با وجدان کسی است که بادیگران معاونت وهمدردی کند وکینه ونفرت ذات البنی مسلمانان را محو مینماید ودوستی ومحبت وعشق را جانشین کینه ونفرت میسازد.تاتمام

خدمات دینی واجتماعي علماء...

بود ، دست به حفاظت از سرحدات نظریاتی کشور زده رژیم اماني که از داخل شدیداً به فساد اداري ، اخلاقي ومالي مواجه گردیده بود به اسرع وقت به سقوط روبرو گردید. البته سقوط رژیم اماني پی آمدهاي ناگوار در برداشت وعقده هاي را در جامعه سبب گردید ونقطه عطف شد براي همه حرکتهاي سیکولرستي الحادي ومنبع الهام وآغازي شد براي همه آن حرکتهایکه در زنده گی فامیلي واجتماعي معتقد وپاي بند نظام فامیلي واجتماعي دیني واسلامي وسنتهات ملي نبودند.

از سقوط رژیم اماني حرکتهاي سیکولرستي الحادي درکشور وحلقه هاي حامي خارجي شان به خصوص رژیم خداناشناس کمونستي روسي چنین ذهنیت وسفکورتي به نسل جوان دانشگاهي ومکتبي کشور دادند که جامعه روحانیت وعلما، مذهبي باداشتن روحیه ارتجاعي وعقب گرائي مخالف تمدن وپیش رفتهاي علمي ، تخنیکي وبه اصطلاح اصلاحات دیموکراتیک سیاسي درکشور بوده [illegible]

الحاد وبیدیني بسقوط دادند.که رفته رفته این مشر وگروه منحرف واجیر کشور را به دامن روسها انداختند. گرچه ملت مجاهد ما به قیمت گزاف جاني ومالي بي حد وحصر گرچه کشور را از سلطه استعمار روسی بنصرت الهي «ج» نجات دادند، باآنهم ملت ما از اثرات شوم وبدآن همه جانبه نجات حاصل نکرده اند وبامشکلات عایده ازاین رهگذر گریبان گیر میباشند. در حالیکه خصومت ومخالفت شخصي وگروهي به احدي از افراد کشور درحال وگذشته نداشته ونداریم ، صرف به خاطر روشن شدن حقایق تاریخي که بدست دشمنان داخلي وخارجي ما خصوصا به ارتباط علما ، وجامعه روحانیت جعل وتحریف شده روشني انداخته تاواضح کرد که جامعه روحانیت وعلما ، کشور هیچگاه نه درگذشته ها ونه در حال ونه در مستقبل مخالف ترقي وتعالي مادي وتخنیکي کشور واصلاحات مثبت در نظام سیاسي ودولتي نبوده بلکه سرحلقه همه حرکتها ونهضتهاي [illegible]

رهبری ملاي وطالبي آغاز گردیده بود صحیفي تسوید ورروشن ساختیم که عناصر منحرف سیکولر چگونه این حرکتهاي سالم ومترقي را به انحراف کشیدند واطمینان ومنافع علماي ملي ازان استفاده بردند وامر روشن ساختیم که حلقه هاي سیکولر ناسیونالیستي اولیت کشور به الهام گرفتن از حرکتهاي سیکولریستي ناسیونالیستي « حزب اتحاد وترقي و ترکان جوان » ترکیه که زاده افکار یهود وتبشیر صلیب بودند چگونه امان الله خان رادوه ادم تذویر ومقاصد شیطاني خود آوردند واسباب سقوط رژیم آنرا فراهم کردند.

روي مقاصد عالي دیني وملي ضروري میدانم که به از حقایق تاریخي قدري روشني انداخته شود تانسل جوان تفهیم گردند که عامل همه بدبختیهاي کشور درقدم اول همان حرکتهاي ضد دیني وملي سیکولرستي ناسیونالیستي که به تدریج اکثراً به حرکتهاي کمونستي مبدل گشتند میباشند [illegible]

... او هغه خیلی ښې داسي سیکی کړې چې دښېنو

گردیې هم معلوم نه شو
مسابه چې کله کله دهغـه په باب سوچونه کول تو دابه مې گر سره زړه ته نه لوېده چې گنې داسي ورځ به هم راورسیږي چې ترشا کتلو لپاره به هم وخت ورته نه پیداکیږي او داسي به په منهو سر وی چې ښنه به یې ځکې ته نه رسیږي، ځکه هغه به همیشه په عامو اوخاصو مجلسونو کی ځان داسي ښودلو چې گویا دځمکې په سربه هیڅوک هم ددې جـرأت ونه لری چې دده مـخې ته ودریږي اویا دی دده دخبرې ونه منلو جرأت وکړي.

هغه به همیشه په ډیر غرور داویل چې « قوت ماقوت مردمی است وهیچ قوت در مقابل ما مقاومت کرده نمیتواند » هغه پخپل ماتیدونکی قوت دومره مغرور و چې حتی خپل مشر ته به یې په آمرانه لهجه خطاب کاوه او داسي به یې ښودله چې په هیـواد کی دیوازینی قوت په توگه هرڅه دده په قومانده کی دی اودی چې څه وایی هغه به عملي کیږي.

رښتیا هم هغه یووخت دخلکو په منځ کی یو کاذب شهرت پیدا کړی و ، ځکه خلکو فکر کاوه چې دی یو رښتینی افغان او واقعي مسلمان دی، خو چې کله دمسلمان ملت په گټه حالات وڅرخیدل ، نو دده فکر اوعمل هم په ډاگه شو او داسي څه ته یې لاس واچاوه چې زمـوږ

څـوریدلی او ربړیدلی ملت یې له یوبل ناورین اوکړاو سره مخامخ کړ، ده په خپل فکر دا انگیرلې وه چې په مـقـابل کی به یې څـوك د دا اخیدو جوگه نه وی اوداسي څوك به پیدا نه شي چې دده په وړاندی، دده د دسیـسو په وړاندی اودده دناچله پیسو په وړاندی مقـاومت وکړي .

خو هغه ورځ راورسیده چې دملت له منځ څخه یوحیدری پاڅون راپورته شو اودحق اواز یې دټول هیواد په غرونو او دښتو کی انگازی وکړي، دغه ژغورنده پاڅون ورو ورو مخ په وړاندی روان و اوهرچیرته به چې ورسید نو دهغه په لاس جوړی شوی دظلم اوفساد ځالی به یې له منځه یووړی اوپرځـای به یې دعـدل اوبرابری قانون نافذ کړ.

دغه ژغورنده بهیر ورو ورو دکابل څنډو ته هم ورسید خو هغه بیا هم دانه منله چې هغه اوسپنیزی وسلی به یې بې اثره کیږي او څرغوزونه به دیونامعلوم لوری په لور مخه کوي، نن دادی دهغـه پرته ماتیدونکو سنگرونو دحق دلاری دمجاهدینو بیرغ رپیږي، نن دهغـه ټول شوم اوناولی پلانونه ترخاورو لاندی شول اونن په لرغوني اوتاریخي کـابل بوځل بیا داسلام ټل ریانده بیرغ ورپول شو او هغه خیلی ښې داسي سیکی کړې چې دچاخبره دپښوگرد یې هم مـعلوم نه شـو.

د ادب ملغلرې

زما خیـاله

م. عبدالحنان = هیت

څومره ستړی ئې زما خیاله = ولی گرځې په ټوپونو
هیځ ارام دی پرځای نشته = هسی زاړې د دردو نو
کله برلاړشی اسمان ته = کله راشي پردی لوری
کله گرزی په ښارونو = کله شاړی میری گوری
کله وخیژې پامیر ته = سپین بیرغ وریاندی دنگ کړی
کله لاړشی ترشمشاده = کرلیچو نو سره جنگ کړی
کله نوی جهان جوړ کړی = اسوده یکښی افغان کړی
کله ژاړی و یتیم ته = دارزونو یې پوسان کړی
کله وښکه دمظلوم شی = دگریوان خواته خوځیږي
کله وخاندی شبنم شی = ونسیم ته خوښیږي
کله وم دمسیحاء «ع» شی = ورك محمود پیرته ژوندی کړی
سومنات وریاندی مات کړی = بیاخاموشه پری دیلی کړی
کله بحرشی طوفان شی = فرعونیان وریکښی غرق شی
کله طورشی وموسی ته = هرکلیځ دی ورته برق شی
کله وران کلی راغواړی = لیټوی پخوانی مینی
دخاریوځو ځای ته ورشی = لاس تر زنی ورته کیښنی
کوم یوسف «ع» درڅخه ورك دی = چی چشمانی دی ړندی شو
کنعانونه پسی غواړی = ولی داسی یی اسری شوی
دهمت دخیال نسیمه = څو به ستړی ستومان گرځی
لیواړام شه په ماغزو کښی = څوبه دلته هلته پرزی

ای طالب!

امان الله

ای طالب حقیقی ،جهاد تو خوش برگزیده باد
فیض ثمربه نخل مرادت رسیده باد
پائیکه برحریم توآید به کید ومکر
آن ازمیان ساقه وزانو بریده باد
قلبی که در خیال شکست تومی طپد
بانوك تیغ همت مردان دریده باد
هرقامتیکه باتوزند بانگ همسری
هم چون گمان به قوس خجالت خمیده باد
هرسرکه پاسدار توباشد خجسته به
هرجان که باتوزنده شود آفریده باد
تاپای عمر دشمنت ازپافتاده به
تاصبح حشر نغمه فتح ات شنیده باد

داسلام باغ به تازه کړو

توخـي

دحق نظام غوښتونکی هرمسلم به په جذبه کړو
راپورته طالبان شول داسلام باغ به تازه کړو
الله دی دوی کامیاب کړی
دښمن دی وربرباد کړی
دخدای په نصرتونو لوی ارمان مو دربوره کړو
راپورته طالبان شول داسلام باغ به تازه کړو
روسه که امریکا ده
که هند یا برتانیا ده
دا هریو افغانانو په خپل وارټوټه ټوټه کړو
راپورته طالبان شول داسلام باغ به تازه کړو
بیدارشی اریایانو
زمرو مسلمانانو
هیواد موریانی اوحکمتیار ټوټه ټوټه کړو
راپورته طالبان شول داسلام باغ به تازه کړو
تکبیر زموږ نعره ده
نصیب موغلبه ده
ملت موډقرآن په ارشاداتو اداره کړو
راپورته طالبان شول داسلام باغ به تازه کړو
که ملا اوطالب ته وی
نودین به غالب ته وی
« توخی » په ښو اشعارو دباطل سرور برمه کړو
راپورته طالبان شول داسلام باغ به تازه کړو

خوحول او پاحول کړي

ملا اسدالله حنیفي

دادکوم یتیم سلگی دی چی دزړونو پریکول کړی
دادکوم زخمی زگیروی دی چی ځیگر مجروحول کړی
دادکوم زنداني کریکه ده چی خیژی کهکشان ته
دا دکومی بوری شور دی چی غوږونه کڼول کړی
دا دکوم مظلوم زاری دی چی ترغوږ دمی رارسی
دادکومی ورارۍ حور دی چی خوبونه تینتول کړی
دادکوم ولس ارمان دی چی ارزان پلورل کیده به
دادکومو وینو رنگ دی چی دنیا رنگینول کړی
دادکوم ملت ارزو ده چی وړیاتیکاری دښمن ته
دادکوم زړگی احساس دی چی دزړونو تخنول کړی
دا دکوم مؤمن تکبیر دی چی اسمان کښی انگازی کړی
دا دکوم غورځنگ تکل دی چی وحشت رابرڅول کړی
دادکوم کهول آواز دی چی دښمن ترینه ویریږی
دادکوم کاروان جرس دی چی له خوبه ویښول کړی
داتحریك دطالبانو دی چی دروسی مخ په وړاندی
دهیواد ارته لمن کی شریعت نافذول کړی
داقلم د«حنیفی » دی چی سپین لیکی اوسپین کاږی
هره کرښه یی الهام دی خوځول اوپاحول کړی

بري د مؤمنانو دي

دطالبانو داسلامي تحریك فـوق العاده بریالیتوبونه ددوی دایمان نښه دی

ابوعبدالحلیم

دطالبانو داسلامي تحریك سحر اسا او حیرانونکي پرمختگونه دعقل اوفکر دعصر معادلو په معیارونو باندي هیڅ نه برابریږي چي مادي انسانان او مادي ځواکونه یې دخپلو مادي معادلو او جمع او تفریق په اساس انکلوي، ځکه چي دوي دنړي او کـائناتو په دغه محسوس اومادي جوړښت اونظام باندي حساب کـوي په داسي حال کي چي دغـه کائنات اوپه دي کي اوسیدونکي انسانان ، پیریانان او نورمخلوق ټول دلوي خداي جل جلاله مخلوق دي ، په ذره ، ذره باندي دده علم اوقدرت حاوي دي. هروخت اوهرځای چي وغواړي دمادي نظام او معادلو برعکس دخپل قدرت ښوونه کـولای شي. دغـه ټول مادي ځواکونه او نظامونه له خپل طبعي مسیر څخه گرځولی شي اودخپلو نیکو بندگانو په گټه یې اړوولای شي.

ځمکي اوآسمانونو له پیدایښت سره سره دحق اوباطل ترمینځ مبارزه روانه ده ، بري دحق اوماتي دباطل په برخه وي. کله فرعوني قوت دموسي علیه السلام او باایمانه ملگرو په لاسونو راچپه کوي، اوکله دنمرود په مقابل کي ابراهیم علیه السلام پیداکوي اوکله بیا دکسري اوقیصر دسپرځواکونو په مقابل کي حضرت محمد صلي الله علیه وسلم ددوي دگمراهیو او ظلمونو د انتها د پاره دوروستني پیغمبر په توگه رالیږي چي دنړي دالهي توحید په اساس اداره اوبشریت دجهالت له تورو تیرو څخه داسلام د روښانه لمر په لورورهبري کـاندي. اودغه رسالت دېښیړتیا دپاره دنبي علیه اسلام اصحابانو دوخت سرکښه ځواکونه په حیرانونکي توگه راسکوره کړل چي ددوي هغه فتوحات اوبریالیتوبونه اصلاً دمادي معادلو اوجمع اوتفریق په معیار کي انکل کیدلاي نه شواي. هرڅه به دلوي خداي « جل جلاله » عظیم قوت اوغیبي مرستي ته منسوبدل. اوددوي دپاره دلوي خداي «جل جلاله» دغه وعده چي « بري اوبرتري دتاسي دي. کـه په رښتیا مؤمنان یاست» یومستر معنوي ځواك وو او بس.

پرون چي دمعاصري نړۍ فرعون پخواني شوروي اتحاد دافغانستان په باایمانه ملت باندي ناروابرید وکړ دافـغـانـستـان دیني عالمانو چي دپیغمبر صلي الله علیه وسلم وارثان دي، په مسـلمـان ملت باندي دکمونستانو او روسانو په خلاف داسلامي جهاد کولو غږ وکړ، چي په تش لاس اماقوي ایمان سره هغوي په مقابل کي وجنگیږي ، فتح اوبري ددوي دي. خو شرط یې په لوي

خداي «جل جلاله» باندي کلك ایمان دي. هغـه وو چي دغـه باایمـانه ملت دعلماوو جهادي غږ ته لبیك ووایو اودعصر نوي معجزه یې دنړي دستر مادي ځواك پخواني شوروي اتحاد په ماتولو نړیوالو ته وروښوده .

خوله بده مرغه کله چي یو شمیر غیر عالم اومادي انسانانو له لوي خداي «جل جلاله» څخه خپله معنوي رابطه وشلوله او هر څه یې دقارون اونمرود په شاني ځانته منسوب کړل او دخلکو ژوند او مرگ یې په خپلو لاسونو کي واخیست ، دمادي قدرت دترلاسه کولو دپاره یې په هردول فساد اوانحراف باندي لاسونه پوري کړل. دلوي خداي «جل جلاله» احکام یې شاته وغورځول دالله تعالي په ځای یې مرستیه له روسانو اوکمونستانو څخه وغوښتله ، په هیواد کي یې داسلامي نظام په ځاي له کمونستانو سره په ائتلاف کولو سره غیر اسلامي اداره رامینځ ته کړه .دافغانستان مؤمن ملت یې په خپل معجزآسا اسلامي جهاد کي له حیراني سره مخامخ کړ. دنړنا په ځاي دظلم ، وحشت او بربریت توري تیاري خپري شوي دمایوسی اوناامیدي ویرونکي فضا رامینځ ته شوه

دهیواد په دغه له مایوسي نه دکه دانحراف په ځورونکي فضا کي دطالبانو اسلامي تحریك بیرته دديني عالمانو په فتوي دخپل ایماني ځواك او ژوندي احساس سره دبا ایمانه ملك په مرسته اوهمکاري دظلم اوفساد ، دانحراف اواختلاف په مقابل کي له خپل اسلامي جهاد ، مظلوم ملت اوافغاني هویت څخه ددفاع په خاطر او په هیواد کي داسلامي شریعت دتطبیق په منظور رامیدان ته شول چي په دې لږوخت کي یې دهیواد له شلو نه زیات ولایتونه له مفسدینو څخه پاك کړل او اوس دهیواد پلازمینې کابل ته فاتحانه داخل او دلوي خداي «جل جلاله» په دربارکي سر په سجده تسبیح ویونکي اواستغفار وونکي دي. دطالبانو داسلامي تحریك ددغو بریالیتوبونو اوپرمختگونو په هکله مادي انسانان اوپه لوي خداي «جل جلاله» باندي بې ایمانه ځواکونه که په دوي هرقسم تورونه لگوي لگوي به یې چي هغه ددوي دکمزوري عقیدي ښکارندوی دي، ولي حقیقت دادي چي دغه معجز آسا پرمختگونه دلوي خداي «جل جلاله» هغه وعـده ده چي «کـه مؤمنان یاست نوبریږ دتاسي دي. » دطالبانو داسلامي تحریك په هرگام اوقدم کي دقدرت دغه وعدي ځرگند اوځلانده دي، ځرگندي اوځلاندي به وي.

انشاء الله

د سـروبي فتحې دکابل شرقي دروازه پرانسته

شا جهان سرداري

وروسته له دې چي داسلامي تحریك اتلو ځواکونو دهیواد په ختیځو ولایتونو کي چپاول وتیکاوو اوهلته یې اسلامي نظام او بشپړ امنیت پلي کړو ، دکابل په ښار چي زموږ دیلرنی پلاتوبی دزړه حیثیت لري هلته یې مخه کړه .

دهیواد په شرقي برخو کی داسلامي تحریك داتلو بچیانو چټك پرمختگ زموږ داسلامي جهاد او هیواد دښمنان سخت وارخطا کړل او بمدسي دخپلو ټولو افرادو او وسلو دتیاري په تکل کي شول.

دچپاول مشرانو په ډیره بیړه خپل ټولي مـزدوري ملیشي اونظامي امکانات دسروبي لورته چي دکابل شرقي دروازه بلل کیږي وخوځولي ، ترڅو داسلامي تحریك د ځواکونو مخه ونیسي اوپه کابل کی خپل غیرقانوني ولکه نوره هم ورده کړي .

نړیوالو مطبوعاتو به هره ورځ رپوټونه خپرول چي سروبي ته دکابل دائتلافي ملیشو دومره او دومره قواوي راورسیدي او...

همدارنگ دچپاول مشرانو به هم په ډیر وياړ ویل چي موږ خپل ځواکونه سروبي ته لیږلي اوزر په لغمان اوننگرهار هم ونیسو او...

رښتیا هم چي سروبي ته د ائتلافي اداري لوي قوت رالخوند شوي وه او داسي انکل شوي وه چي گوندي په سروبي کي به یوه خونړي جگړه پیښه شي اودابه طالبانو ته ډیره گرانه وي چي سروبي ونیسي.

نړیوالو رادیوگانو به هم داسي رپوټونه ورکول چي گوندي طالبان به ونه توانیږي چي سروبي ونیسي.

دائتلافي اداري دچپاول قوماندانانو به هم داسي لاپي شاپي وهلي چي موږ به په هر قیمت چي وي سروبي به ساتو اوله هغه ځایه به ترمرگه خپل پاڼکونه پورته نه کړو بلکي ټل به هلته دلاري لارویان ځورو او خپلي غلاوي به کوو.

خو حقیقت دادی چي زموږ دهیواد دملي خـاینانو په رپوټونو کي حـسا....ي داسي

رعب اوډار اچولي چي کله دطالب نوم واوري بیـاهلك پلك وي، نه ئي له خولي خبري وځي اونه ئي لاس اوپښي ښوري.

سره له دې چي ډارن دښمن سروبي ته ټولي تللي لاري په مـاینونو کـرلي وي اوفکر ئي کـاوه چي دهغوی اوروسانو ماینونه به دوي زموږ دملت دبچیانو دقهر اوغضب څخه وژغوري، خو دلوي خداي «ج» اراده بدله وه اوهغـه څه وشول چي دلوټمار زړگي ئي خفه کړ اوزموږ په وطن کي یې دتورو جرمونو دارتکاب څخه ناامیده کړ.

دادي داسلامي تحریك وياړمن طالبـان دخپلو سرښندونکو قومانداناتو هریو ملابورجان اوملاعبدالرزاق په سروبي ورننوتل اوهلته یې هم دلوټمارانو اخري ځاله تس نس کړه.

دسروبي ولسوالي چپاولگرو دځانونو لپاره یو ډیر مضبوط مرکز گرځولي وه ، اودهغوي هر یوعمل چي زموږ ولس ته به ئي یې شمیره کړاونه مینځ ته کول هغه په سروبي کي پلانیده اوله همدغه ځایه به سازماندهي کیده .

سروبي دپاټکیزم ، لوټمار اوچپاول تاوړه تاریخ لري اوکله چي به زموږ هریو وطنوال په لاري دغي سیمي ته ورنږدې شـونو مستونه دغاگانو په ویلو به ئي پیل وکړ ترڅو چي لوي خداي «ج» یې له دغـه دفساد اوفتنې له ځاي څخه په حیا ،عزت اوابرو کي وباسي.

دسروبي ولس هم دلوټمارانو څخه ډیر پتنگ شوي وه. ځکه دهرځاي بدکاره به ځان دغه سیمي ته رسولو.

اوس دادي الحمد لله هلته هم زموږ وطنوالو ته د عزت شپې راورسیدي اوله دي وروسته به ددغه سیمي اوسیدونکي لکه دهیواد دنورو برخو دخلکو غوندي ارام، مطمئن اوعزتمن ژوند کـوي ، او دمفسدانو له فساد څخه به په امن کي وي...

انشاء الله

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء وجامعهء روحانیت کشور محافظین وسپاهیان سرحدات جغرافیایی ونظریاتی کشور اند

قسمت نزدهم

افراد دربار را که اصلاً در توطئه قتل امیر اشتراك نداشتند و ریشه هاي توطئه براي شان معلوم بود وقاتل را میشناختند به اعدام ، زندان وتبعید غرض مستور نگهداشتن اسرار توطئه محکوم نمودو خشت اول بناء زمامداري خود را به ظلم وجفاء بناء نهاد امان الله خان زیر فشار احساسات انفجار آمیز ضد انگریزي ملت مجاهد ومسلمان افغان که در اواخر زمداري حبیب الله خان به حدنهائي خود رسیده بود وغرض زیر تأثیر آوردن احساسات طرفداران عنصر ضد انگریزي (نصرالله خان) به اعلان جهاد علیه انگلیس وادار گردید.

ملت مسلمان افغان درهمه جبهات جنگ انگریز ها را به شکست شدید مواجه گردانیده به داخل قلب دشمن به پیشروي خود ادامه میدادند که به اعلان ناپه هنگام متارکه جنگ علیه انگلیس از طریق مرکز وبعدازآن بامصالحه باانگلیس روبرو شده همه مناطق مفتوحه را تخلیه کردند وکشور براي همیش ناقص الاستقلال باقي ماند.

امان الله خان بعداز مصالحه با انگلیس راه دوستي ونرمي را باانگریز در پیش گرفت وباهمسایه سمت شمال (روسیه کمونست وملحد) برخلاف سیاست متعنون (ضد روسي) اسلاف خویش به دوستي وسرالات شدید وحاد پرداخت وهمه دروازه هاي بسته ملك را به رخ آنها کشود.

امان الله در داخل دست به پاره ئي اصلاحات اداري وسیاسي درچوکات دولت وحکومت زده به مفید وضروري بود.

امان الله خان در نتیجه گرفت وتشویق حلقه هاي سیکولرستي ،ناسیونالیستي که به زعامت محمود طرزي فعالیت داشت وترك وتشویق حلقه هاي خارجي دست به اقدامات ضد دیني وملي زده درنظرداشت که حکومت خود را از سلطه وگسترش دین واهل دین رهانیده به اساسات الحادي (سیکولرستي ، ناسیونالیستي) متکي وفعال دارد.

جامعه روحانیت کشور نتایج ناگوار ومنفي این نظر وکار امان الله خانرابرایش وانمود ساخته توصیه خیر نمودند چون توصیه هاي خیر اندیشانه جامعه روحانیت جاي را نگرفت وامان الله خان به آن اعتناء نکرد وعلیه ارزشهاي دیني کماکان فعالانه مصروف کار بود ، جامعه روحانیت که مسئولیت حفاظت سرحدات جغرافیائي ونظریاتي کشور را وجهه دیني وملي خود ... معه هم چنین

پشت وپناهي ورهبري دشمنان صلیبي ویهودي اسلام قادر شدند که در جوامع اسلامي گرفت وسلطه خود را قایم نمایند وزعامتهاي سیاسي ودولتي کشور هاي اسلامي را بدست آرند.

این حرکتهاي الحادي وقتي گرفت خود را برجهان اسلامي مضبوط وحتمي گردانیدند که به رهبري مستقیم صیهونیزم یهودي و تبشیرصلیبي جنبشهاي سیکولرستي ،ناسیونالیستي ترکی « اتحاد وترقي وترکان جوان » به عمرپنج ونیم قرن خلافت اسلامي در ترکیه خاتمه بخشیدند وجهان اسلام وامت اسلامي چه عربي وچه عجمي از داشتن یك حکومت واحد ومقتدر محروم گرائیده شد به واحد هاي متعدد وتضعیف شده ئي به اسارت مستقیم وغیر مستقیم استعمارگران اروپائي قرار گرفتند.

استعمارگران کافر صلیبي اروپائي با توجه واهتمام کاملي به رشد وتقویه حرکتهاي سیکولرستي ناسیونالیستي درجهان اسلام کوشیدند ودر نتیجه به نفع همان حرکتهاي ضد اسلامي جاي خالي کردند و آن عناصر فروخته شده را به اریکه قدرت رساندند ، وبه واسطه آنها علیه اسلام ومسلمین کاري کردند که خود انها از انجام آن عاجز بودند.

افغانستان با داشتن موقعیت وارزش سوق الجیش واستراژیك که در این منطقه مهم از جهان دارد هیچگاه از توجه وتجاوز مستقیم وغیر مستقیم استعماریون وکفار جهان کنار نمانده واستعماریون انگریزي واروپائي بعداز شکستهاي مفتضحانه نظامي در مقابل ملت مجاهد وقهرمان افغاني این ملت قهرمانرا به حال خود نمانده در سدد شدند که هویت وشناخت دیني واسلامي این کشور را در نتیجه مسلط کردن یك رژیم واداره سیکولر ولادین از بین ببرند ، همان بود که امان الله خان در نتیجه یك توطئه در باري که علیه حبیب الله خان چیده شده بود ودر آن توطئه حبیب الله خان پدر امان الله خان از بین برده شد به اریکه قدرت رسانده شد.

امان الله خان در اولین اقدام دوره زمامداري خود نصرالله خان (نایب السلطنة) را که بزرگترین عنصر ضد انگریزي در بار پنداشته میشد ومرجع بسیاري از مجاهدین ضد انگریزي سرحدات آزاد کشور ویك شخص معتقد به اسلام واهل دین بود زنداني وبعداً به عقیده قوي به شهادت رسانید وتعداد از

قلعه جوادی

علل سقـوط رژیم امانی

تحولات ودیگر گونیهاي درتاریخ جوامع بشري وملتها سبب وعشوق رشد وارتقاء معنوي ومادي ووحدت ملي گردیده وبرعکس تحولات ودیگر گونیهاي باعث میگردد که ملتها وجوامع بشري وحدت ویگانگي خود را از دست داده بدبیني وتفـرقـه میـان اقشاروطبقات مختلف آن ملتها روبما گردیده وبه سبب آن از رشد وارتقاء ، معنوي ومادي عقب مانند.

سقوط رژیم اماني درتاریخ کشور ما از همان تحولات ودیگر گونیهاي به شمار میرود که در نتیجه سبب گردید بدبیني ، فاصله وجدائي را میان طبقات تحصیل یافته وجوان کشور وجامعه روحانیت ایجاد نماید ونقطه عطف گردد براي آغاز وارتقاء ، حرکاتهاي ضد دیني والحادي درکشور.

سده هاي نوزده وبیست که دوران طوفاني حرکتهاي سیکولرستي الحادي وپیروزیهاي آن حرکتها علیه مذهب ونیروهاي متعصب ، جاهل وجابر کلیساهاي بود آن حرکتها الحادي که نتیجه یك تعصب وانحراف ضد مذهبي در اروپا بود محدود ومحصور علیه کلیسـها واروپا نماند بلکه در اسرع وقت از اروپا قدم بیرون گذاشت به همه اطراف واکناف جهان اثر نامیمون خود را بخش کرد.

متعصبین صلیبي ودشمنان قسم خورده صیهونیي یهودي اسلام ومسلمین باروي دست گرفته برنامه منظم وحساب شده ئي وجنگ عقیده ، بعوض جنگ گرم علیه مسلمین که درآن به شکستهاي مفتضحانه ئي مواجه گردیده بودند توانستن که در طول چند قرن بشکل تدریجي باپیش گرفتن برنامه هاي مختلف ومتنوع حرکتهاي ضد دیني وسیکولرستي را در جوامع اسلامي ایجاد ورشد دهند. پیرامون چگونگي فعالیتها وبرمانه هاي آنها در شروع بحث خویش روشني کامل انداختیم .

قرن بیست که قرن جوش، خروش وپیروزي حرکتهاي الحادي وضد دیني (سیکولرستي) در جهان اسلام بود، حرکتهاي ...

دفاتح طالب مناجات

لويه اومهربانه خدايه ! مونږ خوښ ياو مرسته ستادبندګانو دخدمت لپاره ملاتړلي ده اوپه همدې سېڅلي هيله مخ په وړاندې روان يو.

لويه اومهربانه خدايه! تراوسه پورې چې مونږ كوم برياليتوبونه ترلاسه كړي دي اولا پرمخ روان يو داټول ستامهرباني اوستامرسته ده چې قدم په قدم مو په مخكې پراته خنډونه له منځه ځي.

لويه اومهربانه خدايه! له مونږ سره خوښ دده چې له ساتني اوستادبندګانو له خدمت نه پرته بله ارزو نشته مونږ په همدې هيله راپوورته شوي اوپه همدې هيله ځېل بون نه دوام وركوو؛

لويه اومهربانه خدايه! زمونږ په زړونو كي ددغو پرمختګونو له امله كبر اوغرورته ځاي مه وركوه څكه مونږ پوهيږو چې مونږ غريب بندګان يو اوپه دي هم پوهيږو چې دغه ټول برياليتوبونه خاص اوخاص ستادلوريني او پيرزوينو نتيجه ده ، تو مونږ ستاپه سيخه اومستقيمه لار قايم اودايم ولره.

لويه اومهربانه خدايه ! ددغه شان حيرانوونكو پرمختګونو اوبرياليتوبونو نتيجه كي خوتعامل دادي چې خلك اتهونه كوي، دخوشالي تراني وايي اوميلي جوړوي خو مونږ دځپلي خوشالي اظهار ستاحضورته په سجده كولو اوعجز وړاندي كولو كي وړاندي كوو او ستاله دربار څخه دداسي عملونو غوښتنه كوو چې ستارضاپكي پرته وي اوستا دمخلوق خدمت پكي نغښتي وي.

لويه خدايه! مونږ خو دچوكۍ اومنصب دنيولو لپاره جومانونه اومدرسي نه وي پرايښي نه ښه پرې خبر يې چې په هيواد كي موظلم اوفساد خپل ورو ستي اوج ته رسيدلي و ، نو مونږ مجبور شوو چې په خپل اسلامي هيواد كي ستادقانون دنفاذ لپاره جومات اومدرسه پريږدو اوهغه لار خپله كړو چې دهغې په نتيجه كي ستاپرځمكه ستاقانون حاكم كړو اودتل لپاره پخپل اسلامي هيواد كي اسلامي بيرغ رپانده وساتو.

لويه اومهربانه خدايه! تردې وروسته هم زمونږ په وړاندې ستر ازمويښتونه پراته دي، نو تاته زاري كوو چې په دغو ټولو ازمويښتونو كي موښيږبرياليتوب په نصيب كړه اوله هغه عمل نه موبساته چې ستا دځپګان اوستا دبندګانو دكړاو سبب ګرزي.

لويه اومهربانه خدايه! مونږ دچوكۍ اومنصب طالبان نه بلكي دانسانيت او اسلاميت طالبان يو، زمونږ په زړونو كي باطلي مينې ته ځاي مه وركوه ، مونږ ته توفيق راكړه چې په هيواد كي دهيښې پرې په صورت كي اهل ته دكار دوورسپارلو په كاركي پاتي راته شو اوپه دي توګه ځپلو مظلومو اوځوريدلو هيوادوالو ته دخدمت مصدر وګرزو.

لويه اومهربانه خدايه: مونږ دپيسو اوينګلو طالبان نه يو بلكي مونږ غواړو چې دځپلو خلكو په زړونو كي له پيسو سره مينه په انسانيت اوله بنګلو سره مينه په اسلاميت بدله كړو، نو ته په دغه ستر ارمان كي زمونږ مرستندوي اومددګار شي.

لويه اومهربانه خدايه ! ستاپه لوي دربار كي دهې شمبيره شكران په وړاندې كولو سره يو ځل بيا ستا په درباركي دځپلي عاجزۍ لاسونه پورته كوو اوله تاڅخه دبيا بيا مرستي غوښتنه كوو څكه ستاله مرستي اوهمكارۍ پرته په نړۍ كي ديو كار كيدل هم امكان نه لري.

كه څه هم دطالبانو ځواكونه وظيفه لري چې دبهرنيو هيوادونو دسفارتخانو اوسياسي نمايندګيو امنيت وساتي خو پخپله هغوي هم بايد په دې لاركي مرسته ورته ورسوي

(دبهرنيو چارو مسئول)

له كابل څخه زمونږ ځانګړي خبريال خبر راكوي چې دطالبانو داسلامي تحريك دبهرنيو چارو مسئول په كابل كي دبهرنيو هيوادونو نمايندګيو ته ويلي دي چې دځپلو سفارتخانو اوسياسي نمايندګيو داموالو اواستادو په ساتنه كي ځپلي هلي ځلي وته سپموي.

ده ويلي دي كه څه هم دطالبانو داسلامي تحريك ځواكونه وظيفه لري چې دبهرنيو هيوادونو دسفارتخانو اوسياسي نمايندګيو امنيت وساتي، خوپه دي لار كي پخپله دهغوي مرسته هم لازمه ده .

خبريال وايي: داچې اوسني شيبي څه ناڅه زيانه پاملرنه غواړي نو ددي امكان شته چې دطالبانو په نامه مغرض كسان ناوړه كارونو ته لاس واچوي ځكه نو له هره پلوه بايد توجه وشي.

اعدام داكتر نجيب ملحد وقاتل هزارها تن از ملت مسلمان افغان يك عمل شرعي وانقلابي ميباشد

.شوري مركزي علماء .

خبر نګار ما خبر ميدهد كه اعضاء رئيسه شوري مركزي علماء مقيم صوبه سرحد ، امروز۱۳۷۵/۶/۷ در نماينده تحريك اسلامي طالبان در پشاور تشكيل جلسه داده اوضاع سياسي وتحولات اخير كشور را تحت بحث قرار داده نهايت مفيد ويا ارزش تلقي كرده گفتند : به فضل ونصرت الهي « جل جلاله» تحريك اسلامي طالبان كه فرزندان صالح ومجاهد جامعه روحانيت وعلماء كشور بوده وقيام بزرگ اسلامي وملي آنها از ابتداء الي يومن هذا به مشوره وهدايت حضرات علماء كرام ومشايخ عظام صورت گرفته وبه پيش ميرود به پيروزيهاي فقيدالمثال دست يافته اند وشريعت را در اكثريت حصص كشور حاكم گردانيده بودند كه لله الحمد بعداز فتح تاريخي ولايات مشرقي كشور به فتح مبين در كابل دست يافتند وكابل را از تسلط غير شرعي رژيم ائتلافي رباني نجات دادند وشريعت را درآنجام حاكميت بخشيدند ودر سايه شريعت ومطابق حكم اسلام ومذهب داكتر نجيب ملحد وقاتل هزارها تن از مسلمانان افغانستانرا به جزاء اعمالش رسانيدند، مايه حكم شريعت اسلام اعدام موصوف را مطابق شرع واهداف عالي انقلاب اسلامي دانسته جدا تائيد مينمايم .

خبر نګار ما مي افزايد كه جناب الحاج شيخ الحديث مولوي محمد صادق ، مولوي شهاب الدين دلاور ، مولوي عبدالولي ميداني ، مولوي عبدالحق غزنوي ، مولوي موسي جان ، مولوي فضل احمد و... به نماينده از شوري مركزي علماء صوبه سرحد صحبت كردند.

ورکړ اوپه ځانګړي ډول يې دكابل ښاريانو ته چې دجنګ له ويري تښتيدلي دي بلنه وركړه چې په پوره ډاډ خپلو كورونو ته راستانه شي حكومت ددوي دسراومال دتحفظ ضمانت كوي.

دموقتي كميسيون رئيس دبهرنيو اوكورنيو ژورنالستانو دپوښتنو په ځواب كي دپخواني رژيم دسردمدارانو دسرنوشت په اړه وويل: چې دوي تښتيدلي دي او داسلامي تحريك مجاهدين ددوي په تعقيب پسي دي هروخت يې چې ونيسي دځپلو اعمالو په سرنوشت به يې ورسوي. همدارنګه دپخواني كمونست رژيم دوروستي مشر نجيب د اعدام په باب يې وويل : نجيب دافغانانو د ټوله بيزي وژني مسئول ؤ دي دخاد رئيس اودكمونست ګوند سرسپارلي غړي ؤ چې داسلام او هيواد په وړاندي يې داسي اعمال سرته رسولي و چې دښتي وړ نه ؤ ، دي مونږ دحقوق العباد په اساس اعدام كړ.

دښځو دحقوقو په اړه ده وويل: ښځي به داسلامي شريعت مطابق خپل ټول حقوق ولري . ده ټولو افغانانو ته دافغانستان په بيا ودانولو اوحكومت سره دمرستي كولو غږ وكړ، ده په افغاني سوداګرو غږ وكړ چې كابل ته خوراكي توكي اوتيل په بيړني توګه ورووسوي ترڅو كابل ښاريان له مشكلاتو سره مخامخ نشي.

دداكتر نجيب داعدام په هكله شيخ الحديث صاحب « تره خيل » وويل:

ما دظاهر شاه په وخت كي دنجيب داعدام حكم كړي وه، نواوس دهغه اعدام دملت ارزو پوره كـــړه

دشريعت اداري نه شيخ الحديث تره خيل دنجيب داعدام په هكله په تيليفون كي وويل: مادظاهر شاه په وخت كي دداكتر نجيب داعدام حكم صادر كړي وه څكه هغه ~~دهغه وخت دشريعت اداري ته شيخ الحديث تره خيل دنجيب داعدام په هكله په تيليفون كي وويل مادظاهر شاه په وخت كي دداكتر نجيب داعدام حكم~~ وركړي وه څكه هغه قرانكريم دپوهنتون د دوهم منزل څخه راوغورځاوه ما دعدليې وزارت ته درخواست وركړ: نجيب بايد اعدام شي نه اوس دطالبانو دغه عمل دير مناسب اوپه ځاي عمل دي.

دطالبانو داسلامي تحريك مسئول مقام وويل:

دهيواد دشمال قواوي دي داسلامي دولت مخالفينو ته پناه نه وركوي

له كندهار څخه زمونږ خبريال خبر راكوي چې دطالبانو داسلامي تحريك مسئول مقام دهيواد په شمال كي له پرتو ځواكونو څخه غوښتي دي چې داسلامي دولت مخالفينو ته دي ځاي نه وركوي اوله هغوي سره دي له مرستي كولو څخه ډډه وكړي.

~~په خبر كي ويل شوي داچي تراوسه پوري له كندهار څخه زمونږ خبريال خبر راكوي چي دطالبانو داسلامي تحريك مسئول مقام دهيواد په شمال كي له پرتو ځواكونو څخه غوښتي دي چي داسلامي دولت مخالفينو ته دي ځاي نه وركوي اوله هغوي سره دي له~~ ~~مرستي كولو څخه ډډه وكړي.~~

په خبر كي ويل شوي داچي تراوسه پوري دطالبانو داسلامي تحريك او دهيواد دشمال دقواو ترمنځ نښه اړيكي پاتي شوي اودهغوي ترمنځ كوم برخورد نه دي شوي اوهمدارنګه تر اوسه پوري هغوي دطالبانو اسلامي تحريك ته ډير احترام درلود، نو تردي وروسته هم له دوي څخه زمونږ هيله داده چې په دي اړه خپل مثبت دريځ وساتي اومخالفينو ته په پناه وركولو اوله هغوي سره په مرسته كولو دغه ښه اړيكي زيانمن نه كــړي.

دشيخ الحديث مولوي صاحب تره خيل

دمباركي پيغام

زمونږ خبريال خبر راكوي چې شيخ الحديث صاحب تره خيل دكابل دفتح په مناسبت دشريعت اوونيزي په تيلفون كي په لاندي توږو كي خپل دمباركۍ په پيغام كي وويل: اميرالمؤمنين ملا محمد عمرء مجاهد » داسلامي تحريك دعالي شوري غړيو داسلامي تحريك ټولو مجاهدينو اوګرانو مسلمانو هيوادوالو ته دكابل دفتح په مناسبت دزړه له تله مباركي وايم .

خداي مو داسلامي نظام دقيام په لاركي لا برياليي لره .والسلام

پهرپيښوركي دطالبانو داسلامي تحريك دنمايندګي عالمانو مسئولينو او معيوبينو دكابل دفتح په مناسبت دمباركۍ پيغام.

په پيښور كي دطالبانو دنمايندګي دعالمانو، مسئولينو او معيوبينو دمباركۍ پيغـــام

زمونږخبريال خبر راكوي چې په پيښور كي دطالبانو دنمايندګي عالمانو مسئولينو اومعيوبينو اميرالمؤمنين محترم ملا محمدعمر « مجاهد » عالي شوري ټولو هيوادوالو ته دكابل دفتح په مناسبت دمباركۍ مراتب وړاندي كړي او له لوي خداي « ج » څخه يې په افغانستان كي دپښتني شرعي نظام دراتلو هيله كړي

پايتخت كشور ، كابل عزيز...

داخل شهر مجاهدين تحريك اسلامي طالبان به مقاومت چنداني مواجه نګرديدند.

به اين شكل پايتخت كشور ، كابل عزيز از لوث جنايتكاران تصفيه ګرديد ، امنيت در شهر تأمين شده ، شهريان كابل به زندگي عادي خود ادامه ميدهند.

خبرنګار ما مي افزايد كه هم شهريان كابل قدوم سربازان تحريك اسلامي طالبانرا به نداهاي تكبير وافشاندن كلها براوشان ګرامي داشتند. اكنون در شهر كابل زندگي عادي جريان دارد ومردم بااحساس خوشي وفرحت به كارهاي روزمره خود ادامه ميدهند. خبر مي افزايد كمونيستيكه به اساس فرمان خصوص رهبر عاليقدر انقلاب اسلامي جناب اميرالمؤمنين به رياست جناب الحاج ملا محمد رباني تعين ګرديده بود اداره امورا در كابل بدست ګرفت.

خبر نګار ما ازقول يك منبع عالي رتبه مسئول از كابل خبر ميدهد كه نيروهاي قهرمان تحريك اسلامي طالبان در عمليات تعقيبي خود ميدان مهم هوائي واستراتيژيك بګرام را در كنترول خود اوردند وجانب جبل السراج آخرين لانه فساد نيروهاي شكست خورده وفراري مسعود پيشروي مينمايند.

دكابل دامنيتي چارو...

شامل دي:

دجنوب لويديزي حوزي دزون تنظيمه رئيس محترم ملا محمد حسن اخند دطالبانو داسلامي تحريك دنظامي چارو مسئول محترم ملا عبدالرزاق ديوونۍ او روزني مسئول محترم سيد غياث الدين آغا دبهرنيو چارو مسئول محترم ملا محمد غوث دامنيتي چارو مسئول محترم ملا محمد فاضل .

دوي وظيفه لري چې دكابل دامنيت اواستقرار دساتلو په اړه لازم تصميمونه ونيسي اودهر دول ګډودي دپيدا كيدو په مقابل كي عاجل اقدام وكړي.

دكابل د فتح په مناسبت ...

شوي .

د ورووستيو برق آسا فتوحاتو اوعلاوه په هغه نن شپه دالله تعالي په فضل او نصرت دكابل معجزآسا فتحه محترم وورو جناب اميرالمؤمنين ملا محمد عمر «مجاهد» اخند دطالبانو داسلامي تحريك عالي شوري اوټولو اراكينو حتي خپلو ځانونو اوټولو مسلمانانو ته دزړه له كومي مباركي وايو. لوي خداي «ج» دي دافتوحات دبدر اومكي مكرمي دفتحي په څير مشر اومؤثر وګرځوي له لوي خداي «ج» څخه درته دښه توفيق غوښتنه كوو ترڅو په ګران افغانستان كي يو سوچه اسلامي حكومت قايم ، شريعت غرا محمدي پوره تطبيق اوپه وطن كي كامل امنيت، آرامي اوسوكالي رامينځ ته شي او زمونږ وطن په ټولو ديني ،سياسي، اجتماعي ، اقتصادي اموروكي سرلوړي او دراتلونكي مؤمن نسل له پاره د هدايت او ديانت سرچشمه وګرزي.

له لوي خداي «ج» څخه غواړو چې دهغه دي لوي اوډروند مسئوليت په ښه او پوره انجامولو كي درته كامل توفيق عنايت ، اوابدي نصرت موشامل حال كړي الله تعالي مو حافظ شه .

او غيبي تائيد مو دهميش لپاره دلباري مشال او ملګري واوسه . امين

ما اميد وار هستيم كه...

وكشور رابه سوي تباهي سوق دادند سقوط نمود ومجريان آن به جزاي اعمال شان رسيدند.

مااميدوار هستيم كه باموفقيت تحريك اسلامي طالبان آينده درخشاني كشور ومردم ما در قبال داشته ودر سايه يك حكومت اسلامي واقعي كه حقوق ملت براي شان تفويض ګردد مردم مسلمان ما زندګي باامن وباسعادتي رابه پيش برند كه از طرف اكثريت ملت مسلمان افغانستان تعين ګردد وشخص صالح ، نيك ، مسلمان وبه نحوي از انحا همكار جهاد چهارده ساله ملت مسلمان افغانستان در برابر تجاوز روسها كمونستها باشد مورد تائيد قرار ميدهيم .

الحمد لله كه طالبان را خداي بزرګ توفيق عنايت فرمود كه اداره غاصب رباني را از بين برده وجاي آنرا حكومتي پر مي نمايد كه طلباي كرام و علماي عظام در رأس آن قرار دارند.

ومن الله التوفيق

به فارغين كورس نظامي ...

عظيم الشان آغاز وبعداً رئيس تنظيمه حوزه جنوب غرب محترم ملا برادر آخند خطاب به حاضرين ګفتند : جاي شي خوشي است كه امروز كورس نظامي ولايت هرات چند تني را براي خدمت به دين ووطن تقديم ميكند وما اميد واريم كه فارغين كورس ثالث محاربوي وثالث رهبار ميتوانند براي دين ووطن خود مصدر خدمت شاياني ګردد.

بعداً از طرف قوماندان قول اردوي نمبر چار محترم ملا عبدالرزاق تصديق نامه هاي كورس به فارغين توزيع ګرديد.

از كورس مذكور ۴۷ نفر فارغ ګرديده است و اوشان وعده داد كه در راه خدمت به دين ووطن از هيچ نوع فداكاري دريغ نخواهد ورزيد.

طالبان با اعدام نجيب ...

تحريك اسلامي تبريك ګفته افزودند كه تحريك اسلامي طالبان با اعدام نجيب نشان دادند كه به ارمان بازماندګان شهداء انقلاب اسلامي مخلص ووفاء دار ميباشند، تحريك اسلامي طالبان با تنفيذ شريعت وفاء داري واخلاص عملي خود را با اسلام وانقلاب اسلامي نشان داد وبا اعدام نجيب ثابت كرد كه آنها با دشمنان جهاد وقاتلين ملت همچون اداره فاسد رباني سازش ودوستي نداشته وراهشان از دشمنان اسلام جدا ميباشد

يادونه

[illegible]

دګڼون بيه شپږ مياشتني كالني

پاكستان Rs.400 Rs.200

دخليج هيوادونه SR.300 SR.150

اروپا وامريكا US$150 US$75

الله اكبر الله اكبر ولله الحمد

باسقوط اداره ائتلافي دستهاي اجنبي از كشور ما كوتاه ګرديد

[illegible]

SHARIAT WEEKLY

Editor-in-Chief [illegible]

PAK-RUPEE A/C CD No 169460

Habib Bank LTD Tehkal Bala Branch

Peshawar Pakistan